


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، تولنیزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

---

د مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغاني » لیکنه
د نشر نیټه: اول اکتوبر 2023 میلادی

# د عارف غیرت او میرانه !

ابن سینا وایی : « العارف شجاع و کیف لاوهو بمعزل عن تقیّة الموت؟ وجواد و کیف لا و هو بمعزل عن محبّة الباطل و صفاح للذ نوب وکیف لا ونفسه اکبر من ان تجرحها ذات بشر، ولنساء، للا حقاد و کیف لا و ذکره مشغول با لحق.

د ترجمعی حاصل : عارف شجاع وي ځکه چي د مرګ څخه نه داریږي ، عارف ډیر سخي وي ځکه چي دی د باطل او فاني شي د محبت څخه لری دی .

عارف د خلکو د ګناه هونو او تقصیرونو څخه اغماض کوي او ورڅخه تیریږی ، ځکه چي دی دو مره عالی همت لري چي د ده فکر ته بشري صدمی ضرر نه شي رسولی .

عارف کینی هیروي ځکه چي د ده فکر او زړه د حق په یادونه کی مشغول او مصروف دی، په زړه او فکر کی بی فایدو کینو او حسدونو ته ځای نه ورکوي.
خلاصه داچي عارف حقیقتاً د ژوند معما حل کړی ده ، هغه دا چي ژوند د ژوند غایه او هدف نه دی، بلکی ژوند د حق د معرفت لپاره دی . نو د حق او حقیقت په لیاره کی د مرګ څخه هیڅ نه داریږي .

مال او متاع د عارف په نزد د ژوند و سایل دي، چي د امساک ارزښت او د بی فایدی ساتلو اهمیت نه لري نو په دی اساس ځومره چی د عارف د لاسه کیږي ، مال د خلکو د خیر او منفعت په لیاره کی مصرفوي .
عارف په دی پوهیږی چي په اجتماعي ژوند کی ضرور یو تر بله تیری صورت نیسی نو په دی اساس د هر چا سره د عفوی او ګذشت څخه کار اخلي او خپل وخت بیځایه ، لانجو او کشالو کی نه مصرفوي .

عارف په دی پوهیږي چي په کینو او عقدو کی ګیر انسانان نشي کولی چي حق د معرفت لپاره وخت پیدا کړي ، نو د لویو او عالي اهدافو د رسیدو په منظور کینی او عقدی له یاده باسی او مطلب په لیاری کی تول خندونه او موانع له منځه وړي.

***

مولانا داکتر سعید افغاني

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی»

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی